مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخر ۲۰۲۲/۰۵/۲۶

# د ښځو لیک لوست په اسلام کې (د نجونو زده کړې)

## (اتمه برخه)

### د مؤمنو ښځو حجاب، په قرآن کریم کې

په قرآن کریم کې د ښځو د ویښتانو، مخ، لاسونو او پښو پټولو په تړاؤ ځرګند احکام او ښوونې نه دي راغلي. د ښځو د ویښتانو په اړه له دې امله نه دي ویل شوي چې په عربو کې د جاهلیت په زمانه کې ښځو د (خِمار) په نوم کوچني ټادرونه په سر کول چې ښځو خپل نازک ټادرونه د خپلو غوړونو شا ته اچول چې له امله یې د ښځې غاړه او د سینې یوه برخه ښکاره کیدله. (کابلی تفسیر: د نور سورت د ۳۱ آیت شریف په تفسیر کې) ښايي چې له دې امله به الله تعالی په قرآن کریم کې د سر د ویښتانو د پټولو یادونه نه وي کړې.

لکه وړاندې مو چې ولوستل، په قرآن حکیم کې د ښځو د مخ پټولو یا نه پټولو داسې ځرګند حکم، چې تفسیر ته یې اړتیا نه وي نه ترسترګو کیږي، له دې امله ده چې د علماوو تر منځ د حجاب مسئله یوه اختلافي موضوع ګرځېدلې ده او دواړه ډلې په بېلابېلو دلایلو سره د یو او بل لیدلوري ردوي، له دغو اختلافي مسئلو څخه یوه مهمه برخه د ښځو د مخ، لاسونو او پښو ځرګندول یا پټول دي، د ښځو د حجاب او د حجاب د اړونده شرایطو په هکله رب العالمین د قرآن حکیم د (احزاب) او (نور) په سورتونو کې ښوونې کړې دي. لکه د لیکنو په (۷برخه) برخه کې مو چې ولوستل د احزاب سورت له ۳۰ آیت څخه تر ۳۳ آیت پورې او د نوموړي سورت ۵۳ آیت شریف یوازې د پیغمبر(ص) د مېرمنو د حجاب او کړنو په اړه نازل شوي دي او عمومیت نه لري، خو د احزاب سورت ۵۹ آیت شریف د اهل بیت او د مؤمنو ښځو د حجاب په تړاؤ نازل شوی دی، چې ځینې مفسرین په دې آیت شریف پورې کلک نښتي دي او وايي چې د دې آیت پر بنسټ ښځه په هر حالت کې له سره تر پښو پورې پټه (مستوره) ده، په داسې حال کې چې د نوموړي آیت شریف شان نزول او د هغه مهال شرایط او اوسني شرایط په پام کې نه نیول کیږي او د نور سورت د حجاب آیتونه (د کابلي تفسیر پر استناد) چې وروسته د احزاب له سورت څخه نازل شوي دي، لکه څه ډول چې لازمه ده په ژوره توګه په نظر کې نه نیول کیږي.

د احزاب سورت ۵۹ آیت شریف د نازلیدو په اړه علامه محمد یوسف قرضاوي لیکي:«د جاهلیت د زماني ځینې ښځې چې له کوره بهر وتلې نو خپل ښایست لکه: ویښتان، غاړه او تټر (سینه) به یې لوڅ وو، چې فاسقو او بې دینو انسانانو به هغوی زورولې، چې له امله یې نوموړی آیت نازل شو او مسلمانو ښځو ته یې امر وکړ چې خپل پړونې پر مخ ښکته کړي تر څو د دوی هغه ښایست چې د فتنې سبب کیږي پټ شي او دوی له خپل لباس او قیافې څخه وپېژندل شي چې پاکې او مؤمنې ښځې دي او د فاسدو او بې شخصیته کسانو لخوا ونه زورول شي.»

ښاغلی قرضاوي زیاتوي:«د آیت د بیان له علته ښکاري چې الله تعالی د مسلمانو ښځو د ساتنې په موخه چې د فاسقو او فاسدو کسانو لخوا زورول کیدې، د حجاب د رعایتولو امر کړی دی او د دې لپاره نه چې پر دوی بې باوري رامنځ ته شوي وي او یا د دوی شخصیت له نظره غورځول شوی وي.» (حلال و حرام در اسلام، ۲۰۴مخ)

هغو کسانو چې په مدینه کې یې ښځې زورولې او هغه منافقان چې د مسلمانانو په اړه، په ځانګړي توګه په رسول الله (ص) پسې یې ناوړه تبلیغات کول نو د احزاب سورت ۶۰ آیت شریف په دې موخه نازل شو او له هغوی سره الله (ج) د سختې سزا ژمنه وکړه:

﴿لَّئِن لَّمْ يَنتَهِ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَالْمُرْجِفُونَ فِي الْمَدِينَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُونَكَ فِيهَا إِلَّا قَلِيلًا﴾

ژباړه:«سره له دې که منافقان او هغوی چې په زړونو کې یې د (بې حیایۍ) مرض دی او په مدینه کې د دروغو خپروونکي منع نه شي، موږ به تا پر هغوی وګمارو، نو بیا به هغوی ستا سره په دې ښار کې استوګنه ونه کړی شي، مګر لږې ورځې.» (احزاب: ۶۰)

په کابلي تفسیر کې د دغه آیت په تفسیر کې راغلي دي:«هغه خلک چې بدنیتي وو او په مدینې منوره کې یې ښځو ته لاس اچاوه او په بدو سترګو یې ورته کتل او هم به یې [د مسلمانانو په ضرر] د دروغو خبرې خورولې او په خپلو حرکاتو سره یې [په جګړو کې] د مسلمانانو د ماتې او د کمزورۍ، آوازې خپرولې او د خلکو په منځ کې به یې د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اسلام مخالفين ځواکمن يادول، نو دوی ته يې د سزا ورکولو اخطار ورکړ چې ښايي منافقانو د دغو وېرولو (خبرداري) له امله خپله رويه بدله کړي وي نو له سزا ورکولو څخه وژغورل شول.»

په پورته آيت شريف کې هغو کسانو چې په مدينه کې يې مېرمنو ته مزاحمتونه کول او تر دې کچې ناوړه تبليغات يې کول چې په جګړو کې د پېغمبر(ع) د مرګ آوازې يې هم خپرولې، دا ډول کسان ځينو مفسرينو يهودان بللي چې د الله تعالی له لوري سخته ګوتڅنډنه ورته شوي ده، داسې چې له مرګ او شړلو سره به مخ شي، نو هغه وو چې په مدينه کې منافقان وډار شول او وضعيت عادي حالت ته راوګرځېد داسې ښکاري چې وروسته له هغې چې په مدينه کې حالت ښه شو، نو رب العالمين چې ډېر ستر حليم او رحيم دی د ښځو د آسانتياوو او سوکالۍ لپاره يې د نور سورت ۳۱ آيت شريف نازل کړ:

﴿وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا ۖ وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَىٰ جُيُوبِهِنَّ ۖ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ أَوْ نِسَائِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَىٰ عَوْرَاتِ النِّسَاءِ ۖ وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ ۚ وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾

ژباړه:«او مؤمنو ښځو ته ووايه چې خپلې سترګې دې کښته وساتي او د خپلو سترځايونو ساتنه دې وکړي او خپل ډول او سېنګار دې پردو ته نه ښکاره کوي، مګر هغه ځايونه چې طبعاً بربنډ وي او خپل پړونی پر خپلو ګرېوانو (سينو) واچوئ او خپل سينګار بربنډ نه کړئ مګر د خپل خاوند او يا د خپل پلار په مخ کې يا د خاوند د پلار په مخ کې يا د خپلو زامنو يا د خپل خاوند د زامنو يا د خپلو ورونو يا د ورېرونو يا د خوريونو يا د خپلو ښځو يا خپلو مريانو يا د خپلو هغو نارينه وو نوکرانو په مخ کې چې هغوی کوم غرض نه لري، د هغو هلکانو په مخ کې چې هغوی لا تر اوسه د ستر په رمز نه پوهېږي او نه دې مسلماناني ښځې خپلې پښې په زوره په ځمکه وهي، د دې لپاره چې کوم سينګار چې هغوی پټ کړی دی هغه ښکاره شي او تاسې ټول اې مسلمانانو خدای ته په جمع توبه وباسئ شايد تاسې وژغول شئ.» (نور: ۳۱)

د نور سورت د ۳۱ آيت شريف له ښوونو داسې ښکاري چې څو بېلابېل عوامل سره يو ځای شوي او بيا يې په اړه دا آيت نازل شوی دی، د دې آيت شريف د شان نزول په هکله په حديثونو کې څو ډوله روايتونه شتون لري:

ابن ابو حاتم له مقاتل، له جابر بن عبدالله روايت کوي چې: اسماء د مرثد لور د خجيرو (خرما) په يو باغ کې اوسېدله او هغه يې خپل ملکيت ؤ، هغه باغ ته نورې ښځې په داسې حال کې ورتللې چې نيمې لوڅې وې، داسې چې [پر پښو پورې ترلې] پايزېب يې ښکارېدل او تيونه او ټټرونه يې ښکاره کېدل. اسماء وويل:«دا ډول حالت څومره ناوړه او خواشينوونکی دی» هغه وو چې الله تعالی دا آيت نازل کړ: ﴿وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ ... .﴾

بل ځای له ابن جرير له حضرمي څخه روايت کوي وايي:«يوې ښځې دوه د سپينو زرو پايزېب او يمني مهرې پر خپلو پښو ترلي وو، نو کله چې له يوې ډلې سړيو څخه تېرېدله، خپلې پښې يې پر ځمکه باندې په زور سره ووهلې، چې له امله يې پايزېب له يمني مهرو سره ولګېدلې او آواز يې پورته شو، نو﴿وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ﴾ نازل شو. (جلال الدين سيوطي: اسباب نزول آيات قرآن کريم، فارسي ژباړه د عبدالکريم ارشد،۲۵۷- ۲۵۸مخونه)

په دې آيت شريف کې له هر څه لومړی مؤمنو ښځو ته ويل شوي دي چې«ښځې دې نامحرمو سړيو ته نه ګوري» لکه چې پوهېږو پرديو سړيو ته د ښځې په کتلو کې خامخا يو ډول غرض او مرض پروت وي که ښځه پرديو سړيو ته وګوري او په زړه کې يې څه بدي هم نه وي، د بد عملو سړيو په زړونو کې ناوړه خيالونه رامنځ ته کيږي خو که ښځه چا ته ونه ګوري هېڅ ډول مشکل نه رامنځ ته کيږي چې له نېکه مرغه افغان مېرمنې له آره عادت لري چې سړيو ته نه ګوري.

دويم دا چې ښځو ته حکم شوی دی چې«د خپلو سترځايونو ساتنه دې وکړي» په دې مانا چې له زنا څخه ځانونه وساتئ، نه دې ويل شوي چې خپل ستر ځايونه دې پټ کړي، ځکه چې د ښځو حساس غړي لکه: تيونه او لاندې غړي د نړۍ ټولې ښځې فطرتاً پټوي، دا که په هر دين او يا په هر توکم پورې تړاؤ ولري.

درېيم: ښځو ته ويل شوي دي«خپل ډول او سېنګار دې پردو ته نه ښکاره کوي، مګر هغه ځايونه چې طبعاً ښکاره وي» چې اصل د اختلاف او زموږ د بحث ټکی همدا د ﴿إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا﴾ «هغه ځايونه چې طبعاً ښکاره وي» د تفسير او حقيقي مانا په اړه دی، په نومووړي آيت کې نورې ټولې ښوونې په روښانه توګه ښکاره دي يوازې د ﴿إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا﴾ موضوع د علماوو د اختلاف مسئله ګرځېدلې ده او په نړۍ کې، په ځانګړې توګه په افغانستان کې يې ښځې له مشکل سره مخ کړې دي، دغه اختلافي مسئله د زماني د اسلامي نړۍ د پوهانو پخوانی ستر مشر او لارښود ښاغلي علامه محمد يوسف عبدالله قرضاوي د خپلې لويې پوهې په رڼا کې حل کړې ده چې د ډېرو پلټنو او ګروېږنو په پايله کې دا ارزښتمن مالومات لاس ته راغلل، په دې هيله چې د ټولو لپاره د قناعت وړ وګرځي، ښاغلی قرضاوي په دې اړه وايي:

﴿وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا﴾«ښځې دې خپل ډول او سېنګار نه ښکاره کوي، خو هغه چې عادتاً ښکاره کيږي.»

قرضاوي صاحب د قرآن حکيم د پورته مطلب په تفسير کې ليکي:«هر هغه څه چې د ښځې د ډول او ښکلا سبب شي زينت ورته ويل کيږي، لکه د ښځې طبيعي او فطري ښکلا: مخ، ويښتان، وريځې او نور چې د ښکلا باعث دي او هغه زينت چې د ښځې لخوا ترسره شي لکه لباس، ګاڼې، رنګونه او نور. په دې آيت شريف کې خدای تعالی ښځو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ته امر کوي چې خپله ښکلا دې پټه کړي او دوی د هغو له ښکاره کولو منع کوي او د هرې ښکلا ښکاره کول حرام بولي خو هغه چې معمولاً ښکاره کیږي.»

قرضاوي صاحب زیاتوي:«ابن عباس [د پیغمبر(ص) تره چې ترجمان القرآن یې بولي] د ﴿إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا﴾ په تفسیر کې وایي چې منظور، د سترګو رانجه او د لاس ګوتمۍ دي. له انس څخه هم دا ډول تفسیر روایت شوی دی نو کله چې پر سترګو د رنجو او د لاسونو د ګوتو د ګوتمیو ښکاره کول جایز وي، د هغو غړو ښکاره کول چې رانجه او ګوتمۍ په کې کارول کیږي چې هماغه لاس او مخ دي، باید ښکاره کول یې جایز وي او دغه مانا په څرګنده توګه سعید بن جبیر، عطاء، اوزاعی او نورو هم کړې ده.»

ښاغلی قرضاوي وړاندې ځي لیکي:«حضرت عایشې او قتاده او نورو ویلي دي چې د لاس وښې او ګوتي هم د هغې ښکلا برخه ده چې ښکاره کیږي او دا په دې مانا ده چې د لاس مړوند ښکاره کول هم جایز دي او علما د مړوند د ښکاره کیدو په اړه د نظر اختلاف لري، تر دې چې ځیني وایي تر نیمایي څنګلې پورې دې ښکاره وي. خو د دا ډول، اسانۍ غوښتونکو علماوو پر وړاندې یو شمېر نورو لکه عبدالله بن مسعود او نخعي، دایره تنګه کړي، په اړه یې ډېره سختي کوي او ﴿إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا﴾ یې د ښځو پړونی، کمیس او نور ټول د اغوستن کالي چې د هغوی د پټولو امکان نه وي تفسیر کړي دي.»

ښاغلی قرضاوي په دې ځای کې وایي:«زما په نظر موخه له ﴿إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا﴾ څخه باید یوازې مخ، لاسونه، معمولې او معقولې ښکلاګانې وي چې هغه له اسراف او اغوا څخه خالي دي، لکه رانجه او ګوتمۍ چې د صحابوو او تابعینو ډلو هم دا ډول مانا تایید کړې ده. الله تعالی مسلمانو ښځو ته د اسانۍ او رحم په موخه اجازه ورکوي چې د هغوی ځیني غړي چې هغه نه شي پټولی څرګند وي او معقوله دا ده چې هغه مخ او لاسونه دي. امام قرطبي وایي چې عادتاً د ښځې مخ او لاسونه پټ نه دي او د عبادت، د لمانځه او د حج پرمهال پټ نه دي، ښه دا ده چې د ﴿إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا﴾ څخه منظور د ښځې مخ او لاسونه وي، هغه حدیث چې ابوداؤد له حضرت عایشې څخه د خپلې خور اسماء د ابوبکر لور په هکله روایت کړی دی همدا مانا تاییدوي. (*)

وروسته له پورته څېړنې، علامه قرضاوي صاحب د مسئلې حل ته رسیږي او د نور سورت ۳۰ آیت شریف د نوموړي سورت د ۳۱ آیت چې د مناقشې اصل موضوع ده په تفسیر کې د بهترین دلیل په توګه وړاندې کوي وایي چې دا ډول تفسیر ته (تفسیر بالآیت) ویل کیږي، ښاغلی قرضاوي لیکي:**«په خپله دا آیت شریف په ښه توګه څرګندوي چې فرمایي:﴿قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ﴾ ژباړه:«مؤمنانو ته ووایه: چې خپلې سترګې (له نامحرمو ښځو) ټیټې وساتي» له دغه آیت شریف څخه ثابتیږي چې ښځې د حضرت رسول الله (ص) په زمانه کې سرتر پښو پورې پټې نه وې، که چېرې د ښځو ټول بدن، او لاسونه پټ وای او د ښځو د بدن کومه برخه نه لیدل کیدی او د کتو طمع یې نه کیدی، نو الله تعالی سړیو ته امر نه کولو چې خپلې سترګې له نامحرمو ښځو څخه ټیټې کړي.»**
(حلال و حرام در اسلام، ۲۰۱مخ)

د علامه قرضاوي صاحب له عالمانه دلایلو او منطقي څرګندونو وروسته به دا هم ورزیاته کړو چې د ښځو د مخ پټولو پلوي کسان چې د ښځو د اغوستي لباس بهرنۍ برخه ﴿إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا﴾ بولي، یو بې مانا نظر دی، ځکه چې د قرآن کریم د نازلیدو په زمانه کې د نن په څېر رنګین او ښکلي کالي نه وو چې د خلکو پام وراوښتی وای، هغه مهال عامو ښځو ساده کالي اغوستل چې هېڅ ډول د پام وړ داسې انځورونه او ښکلا په کې نه وه چې هغو ته د سړیو پام وراوښتی وای، **بله دا چې نوموړی آیت شریف، د ښځو د بدن د غړو، طبیعي او مصنوعي ښکلا د پټولو او نه پټول په اړه راغلی دی، نه د ښځو د کالیو د ظاهري بڼې یا ښکلا د پټولو یا څرګندولو په اړه.**

په پای کې یو مهم حدیث، د یوې پېښې په تړاو چې د ښځو د مخ په څرګندلو دلالت کوي وړاندې کوو چې دا پېښه د حجاب د ټولو آیتونو څخه وروسته، د حجة الوداع په حج کې چې د پیغمبر(ع) وروستی حج ؤ (او له دې کبله حجة الوداع یاني د خدای په امانۍ حج یې بولې) رامنځ ته شوي وه چې له نېکه مرغه د ښځو د مخ او لاسونو د څرګندولو مخالفین هېڅ ډول دلیل او منطق نه شي وړاندې کولی او دا مبارک حدیث نه شي ردولی:

په بخاري او مسلم شریف کې له ابن عباس (رض) څخه روایت کوي چې په حجة الوداع کې د خثعم له قبیلې څخه یوې ښځې له پیغبر(ص) څخه د فتوا غوښتنه وکړه، په داسې حال کې چې د عباس زوی فضل د پیغمبر(ع) شا ته ؤ او فضل هغې ښکلي ښځې ته کتل. پیغمبر(ص) د فضل مخ [په خپل لاس] وګرځاوه. عباس وویل:«یا رسول الله، ولې دې د خپل تره زوی مخ وګرځاوه؟» ویې ویل:«ځوانه ښځه او ځوان سړی مې ولیدل چې د شیطان له وسوسې څخه په امن کې نه وم.»

له دې څخه په ډاګه څرګندیږي چې وروسته د حجاب د ټولو اړونده آیاتونو څخه د ښځو مخونه پټ نه وو، که د ښځو مخونه پټ وای نو فضل به هغې ښځې ته نه کتل او ځیني پوهان وایي چې که د ښځو مخونه پټ وای نو پیغمبر(ص) به هغې ښځې ته ویلي وو چې مخ پټ کړي.

---

(*): اسماء بنت ابي بکر(رض) رسول الله(ص) ته راغله نري کالي یې اغوستي وو، نو حضور(ص) مخ ترې واړاوه، ویې ویل:«کله چې ښځه بلوغ ته ورسیږي نو پرته له دې او دې (مخ او لاسونه) څخه نور غړي نه ښکاره کوي.»
درناوی
نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ